مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد انور اخګر ۲۰۲۱/۰۱/۰۲

# د دوکتور م، عثمان تره کي په ځواب کې

(دریيمه برخه)

**«نکتايي لرونکي طالبان... هیڅکله د امریکا سره دشمني د افغانستان په ګټه نه ویني؛ ... در برابر دو لشکر متجاوز شوروی و امریکا در جنگ گذشتانده »**

(سخُنانِ ضد و نقیض از اقوال جناب تره کی)

ښاغلی تره کی!

ـ تاسو په خپله لیکنه (چند سوال از ښاغلی انور آخګر) په ځلورمه پوښتنه کي د امریکایانو پر وړاندي د جهاد فتوا غوښتي ده، پوښتلي مو دي:« امروز همه جهان اعم از اسلام یا غیر اسلام افغانستان را کشور اشغال شده میداند . طالبان مدعی دفع اشغال از طریق مقاومت و جهاد اند .شما که خود را مسلمان معرفی میکنید و از آیت و حدیث رفرنس میدهید، با جهاد طالبان موافق استید و یا به تبعیت از موضع امریکا و حکومت کابل مخالف؟»

ـ ځواب: ښاغلی دوکتور! ستا دا پوښتنه عادي پوښتنه نه ده، دا یو پراخ بحث ته اړتیا لري، تاسو چي په پورته پوښتني کي هر ډول شوم هدف لرئ په هغه تاسو ښه پوهیږئ خو زه تاسو ته دومره وایم چي د ټولو اشغالګر پر وړاندي چي په هغو کي فرانسویان هم راځي جهاد د قرآن حکیم او پیغمبر (ص) د مبارکو احادیثو د ښکاره احکامو پر بنسټ فرض دی.

ـ پوښتنه: جناب دوکتور! ته چي ځان نېکټايي لرونکی طالب بولې دا ووایه چي:

الف: فرانسویان او نور غربیان چي له امریکایانو سره اوږه په اوږه د طالبانو پر وړاندي جګړېري او زموږ بي ګناه او مظلوم خلک (ښځي، ماشومان، سپینږیري او ځوانان) وژني، د امریکایانو او غربیانو، په ځانګړي توګه د فرانسویانو پر وړاندي په افغانستان کي جهاد روا دی که نه؟ په بل عبارت: د فرانسویانو وژل په افغانستان کي روا دي که نه؟

ب: دا هم ووایه چي: په فرانسه کي د عالمیانو ستر پیغمبر محمد (ص) ځو ځلې د یو شمېر فرانسویانو له خوا کاریکاتورونه ښکل شوي دي توهین ورته شوی دی او سپک ورته کتل شوي دي چي له امله يي ځینو مسلمانانو غبرګون ښودلی دی او هغه کسان چي پیغمبر (ص) ته يي توهین کړی ؤ وژلي دي، آیا د دا ډول خلکو وژل د فرانسي په ښارونو کي روا بولي که ناروا؟

ج: او د دي پوښتني ځواب هم غواړم چي په افغانستان کي د حکومت امنیتي، ملکي او بي وسلي عامو خلکو وژل او په عامه المنفعه ودانیو لکه: مسجدونو، جنازو، فاتحو، زیارتونو، روغتونونو، ودونو، پوهنتونونو، مکتبونو، بانکونو، روزنځایونو، د طالبانو بریدونه روا بولي؟ که يي روا بولي په کوم شرعي دلیل.

ـ تاسو ښاغلي په خپله پنځمه پوښتنه کي ویلي دي:«ارتباط شما با جمعیت اصلاح که قرار شنیدگی از جانب استخبارات پاکستان و عربستان سعودی مشترکا تمویل میشود، در کدام سطح است ؟ محدود به همکاری منظم قلمی ویا...»

ځواب: جنابه! پوه شه چي جمعیت اصلاح او نور سازمانونه زموږ له سویي په ټيټه کچه کي دي، زموږ کورنی یوه مسلمانه، مترقي او روڼ اندي کورنی ده، ستا او ستا د بادارانو ناپاکستان او نورو افغان دښمنه هیوادونو په شان تنګ نظره نه یو چي اسلام ته د سنتي له سوري (سلیم) څخه ګورو، موږ یو پراخ او جامع لید لرو.

ـ ښاغلی دوکتور او نېکټايي لرونکی طالبه! تاسو په شپږم سوال کي داسي پوښتنی:«آیا حملات مسلسل شما از مجرای بستن اتهام به من به معنای آن نیست که شما رابطه پنهان خود را با استخبارات پاکستان و سعودی در یک بازی تو بگو و مه بگو کتمان کنید ؟»

ځواب: مننه کوم ګرانه دوکتوره، د پورته سوال ځواب تاسو به خپله ویلي دی تاسو جناب په یوه بله مقاله کي فرمایلي دي: «کوبیدن تاپه استخبارات خارجی به پیشانی مخالف سیاسی به حربه معمول مناقشات سیاسی در میان افغانان بدل شده است .ازین حربه وقتی استفاده سوء میشود که منقد در برابر مخالف احساس کمبودی و ذلت اخلاقی کند و



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیز بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

برای دریافت دلیل در دفاع از خود بیچاره و دربچال شود.» (افغان جرمن انلاین) تبصرهٔ در مورد یک نابینای سیاسی بنام دوکتور روستار تره کی)
او د خندا وړ ده چې د خپل بام واوره د بل پر بام اچوی، ستا دا سوال په حقیقت کې تاسو جناب ته متوجه دی، داسي چې تاسو د افغانستان پر یو دروند پورټال (افغان جرمن انلاین) چې دښمن ګاونډي هېوادونه يې د تخريب په هڅو کې دي او ستا په شان خلک يې ورته ګمارلي دي؛ تاسو محترم د پورته سوال ځواب په خپله داسي ورکړی دی:
ـ ښاغلیه تره کیه! تاسو په اوومه پوښتنه کې پوښتنه کوئ چې:«آیا شما نوشته های مرا در رابطه به پاکستان که بخش کوچک آن در آرشیف افغان جرمن ثبت است، از نظر گذشتانده اید ؟ اگر گذشتانده اید فکر نمیکنید که درین جنگ شکست خود را قبل از آغاز اعلام کرده اید ؟»
ـ ځواب: وايي:«چیزی که عیان است، چه حاجت به بیان است» تاسو تل د ناپاکستان ګټو ته په مخامخ او نامخامخ توګه کار کوئ، ته چې ځان نيکتايي دار طالب بولې، تاسو نه دي اوريدلي چې وايي:«ستا د دښمن دوست، ستا دښمن دی او ستا د دښمن دښمن، ستا دوست دی» دا منم چې تاسو د پاکستان پروړاندې ځينې مقالې ليکلي دي، خو دا ځو ټکي تاسو ته د پاکستان د غلامی تور نه شي پاکولی ، موږ پوهېږو چې د ځينو ضعيف النفسه خلکو شخصيت په خپل ژوند کې څو ځلې بدليږي، ستاسو شخصيت هم تغير کړی دی، موږ وليدل چې د خلکيانو پرچميانو ډګرجنرالان، هغه پاکستان ته ورتسليم شول چې پر وړاندې يې په کلونو، کلونو جګړيدلي وو او دا مو هم وليدل چې د تنظيمونو مشران چې د روسانو پر وړاندې يې جګړې کړي وې، مسکو ته ولاړل له روسانو سره په يو ميز کېناستل... نو ته هم له دغو خلک څخه کومه لوړه ځانګړنه، نه لرې او په دې پوه شه چې زه داسي ځوک نه يم چې ستا په شان خلکو پر وړاندې خپله ماتي ومنم او دا د لوی خوشال بابا د شعر يو بيت:
لا تر اوسه يې ماغزه په قرار نه دي
چا چې ما سره وهلي سر په سنګ دی
ښاغلی دوکتورا تاسو په اتم سوال کې ويلي دي:«شما با گروه های مخرب که در شبکه های اجتماعی مصروف تخریب پروسه صلح، دادن پهنا به نفاق و شقاق و ترور اخلاقی و سیاسی شخصیت های مخالف اند، چه ارتباط دارید؟»
ځواب: ستاسو د پورته پوښتنې د لومړی برخې ځواب، ستا د دريمې پوښتنې په ځواب کې ويل شوی دی او د پوښتنې دويمه برخه بيا تاسو ښاغلي ته متوجه ده چې تاسو ياست چې د هېواد ملي او په وطن مينو شخصيتونو د ترور ملا دې تړلې ده.
جناب دوکتورا تاسو په نهمه پوښتنه کې وايئ چې:«شما که از بیطرفی خود صحبت میکنید و از وابستگی با سایت افغان جرمن انکار مینمائید، چرا در رابطه به سانسور مضمون ع، تره کی ( توضیح مزید برای رفع اشتباه . .. مورخ ۲۶ / ۱۲ / ۲۰۲۰) توسط سایت، سکوت اختیار کرده اید ؟:
سایت افغان جرمن مَرکّب مراد را در جاده یک طرفه میدواند .نه تنها از نشر مطالبی که به مذاقش سازگار نیست، انکار میکند بلکه اگر روی آمد گپ به مخالف چانس ابراز نظر هم بدهد با مخالف از موضع نوعی تبعیض مطبوعاتی برخورد میکند : افغان جرمن همین اکنون در بخش برگزیده های این هفته مضمون مملو از خرده گیری خود را در رابطه به یکی از نوشته های قبلی من به نشر سپرده است .اما جوابیه مرا در حاشیه از نظر افتاده صفحه جاه داده است.»
ځواب: ښاغليه تره کيه! ته چې د شريرو ماشومان په شان په خپلو ليکنو کې کنځلې او بې ادبی ليکې زه خو څه چې هر ځوک راشي ستاسو دا ډول ادبياتو ته به پرتوګ جوړ نه کړای شي، ته څه ډول له ما څخه د دفاع هيله لرې، په داسي حال کې چې زه ستا د بې ځايه تورونو او بې منطقه ليکنو پر وړاندې ولاړ يم.
ته په کوم دليل له افغان جرمن انلاين پورټال څخه هيله کوې چې ستا ليکنې د اونۍ په غوره ليکنو کې خپرې کړي، حال دا چې ستا ليکنې بايد نوموړی پورټال قطعاً خپرې نه کړي خو بيا هم دوی ته دې خبر وي چې ستا کنځلې خپروي. په دې تړاو د لوی خان دا بيت:

هم مـي ووژنـي پـه خپله، هم په ما پوري ژړا کا
څه ښه يار دی ښه يې مينه، وژل هسي شيونٔ هسي

ښاغلی تره کی! تاسو په خپل وروستي سوال چې ګمان کوم (۱۱مه) شمېره پوښتنه به وي چې تاسو جناب د خپلې حافظې د کمزورۍ له امله لسمه او يوولسمه شمېره نه ده ليکلې داسي فرمايلي دي:«آقای اځر ! سوابق و حال خود را در لفافه آیات قرهان [قرآن] پیچانیدن دیگر از مود افتاده است .ازین تکتیک در جناح چپ کارمل و نجیب استفاده کردند. دیدیم جائی را نگرفت.در جناح راست مفتی ایساف میخواهد با جا گرفتن در غوزه آیت و حدیث به خود مصئونیت به بخشد که مطمئنا نتیجه مطلوب نخواهد داد ».


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ځواب: نېکټايي لرونکی او بې ږيرې ملا صاحب! قرآن کريم د الله تعالی کلام دی هر هغه څوک چې عقيده پرې ولري نتيجه يې ويني، قرآن حکيم او هغه چې قرآن مجيد لولي هېڅ کله له موده نه لوېږي، قرآن شريف په هر زمان او مکان کې خپل اغېز لري، وړاندې مې درته وليکل چې زما قانون قران مجيد دی، پوه شه چې زه په پټو سترګو پر قرآن کريم باندې ګروهمن نه يم، بلکې په رڼو او روښانه ډول عقيده پرې لرم، زه په خپل ژوند کې د قرآن حکيم يو حکمت درته وايم: موږ په کلي کې ستا په شان له يوه کس سره حقوقي دعوه درلوده چې پر موږ يې ستا غوندې ناروا دعوه کړې وه، ډېر يې وزورولو چې په پای کې زما وروڼو او تره زامنو داسې تصميم نيولی ؤ چې هغه ناروا سړی بايد ووژل شي، دوی ما ته راغلل خپل تصميم يې راته څرګند کړ، دا چې ما ته د کلام الله مجيد احکام مالوم وو، دوی ته مې وويل چې قرآن موږ ته دا اجازه نه راکوي دا سړی ووژنو، زموږ سره يې دعوه ده، دعوه به ورسره کوو، په پای کې موږ دعوه ترې وګټله، لږه موده وروسته هغه له خپل سکه تره زوی سره ناروا دعوه پيل کړه، تره زوی يې ټوپک پسې راپورته کړ په دې سر، سر يې وويشت چې ماغزه خواره واره پراته وو. منظور دا دی چې دا د قرآن برکت ؤ چې موږ يې د يو انسان له وژلو او د پښتنو له بدئ وساتلو، دا مې د قرآن کريم د حکمت په اړه، (مُشت نمونه خروار) درته وليکل.

زه په دې وياړم او له لوی څښتنه مننه کوم چې ما ته يې پوهه او حکمت راکړی دی.

﴿يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَن يَشَاءُ ۚ وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ﴾

«(خدا) دانش و حکمت را به هر کس بخواهد (و شايسته بداند) می‌دهد؛ و به هر کس دانش داده شود، خير فراوانی داده شده است. و جز خردمندان، (اين حقايق را درک نمی‌کنند، و) متذکر نمی‌گردند.» (بقره: ۲۶۹)

او ښاغلی دوکتور! په دې هم پوه شه چې زه د اديانو متخصص يم په ځانګړي توګه د ابراهيمي اديانو، په عهد عتيق او عهد جديد،(که سر دې نه پر خلاصيږي) په تورات او انجيلونو کې مې څېړنې کړي دي، د ډېرې مطالعې له امله دا راته ثابته شوي ده چې د نړئ په ټولو ديني کتابونو کې يوازې قرآن عظيم دی چې د بشر له لاسوهنو پاک پاتې شوی دی، ستاسو له پورته څرګندونو داسې ښکاري چې عقيده دې متزلزله ده، ځکه خو پوښتنه راولاړه شوه: آيا قرآن حکيم مو لوستی دی؟ د اسلام پنځه ارکان تر کومې کچې عملي کوئ؟ او ډېره عادي پوښتنه: په اودس کې څو فرض او سنت دي؟

نوربيا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ